# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۱۷۷ ګڼه / چهارشنبه ۲۰ شوال‌المکرم ۱٤٤٤ هـ.ق / ۲۰ ثور ۱٤۰۲ هـ.ش / ۱۰ می ۲۰۲۳ میلادي



## له ایران سره د وسپنې پټلۍ له لارې د سوداګریزو توکو د انتقال لړۍ پیل شوه

د افغانستان د وسپنې پټلۍ اداري د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته د لومړي ځل لپاره له ایران څخه د رېل ګادي په وسیله هېواد ته د سوداګریزو توکو د را انتقالېدو خبر ورکړی دی.



یادې ادارې د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې (له ایران هېواد څخه تر فتحې وروسته لومړنی قطار، چې یو لوکوموتیو او ۱۷ واګونه دي او د دې بار مجموعي وزن ٦٥٥ ټنه او د خواف -هرات ٤ توټي لومړي فاز رېل دی، د خواف-هرات وسپنې پټلۍ ... ۷مخ

## کابل او تهران پر ګډو روغتیایي همکاریو توافق کړی




داکتر قلندر عباد د عامې روغتیا سرپرست وزیر تهران کې له خپل ایراني سیال سره په لیدنه کې بامیانو ولایت کې د ۲۰۰ بستریز امام خمیني قلبي روغتون د کارونو پر پرمختګ او سرحدونو کې د ناروغیو د لېږد د مخنیوي پر میکانېزم خبري کړې دي. یاد وزارت زیاتوي، چې دواړو لورو دغه راز ایران کې افغان کډوالو ته د درملنې لپاره د شرایطو او اسانتیاوو په برابرولو، د طبي تجهیزاتو او باکیفیته درملو پر اړتیا او د روغتیایي پرسونل د ظرفیت لوړونې په اړه خبرې کړې او د روغتیا په برخه کې یې پر ګډو همکاریو ټینګار کړی دی.

## د ټکسي موټرو رنګ له نړیوالو معیارونو سره سم وټاکل شو



د ترافیکو لوی ریاست په هېواد کې د ټکسي موټرو لپاره نوی ځانګړی رنګ مشخص کړ.

په هېواد کې د ښاري او اطرافي ټکسي موټرو لپاره نوی ځانګړی رنګ پرون د حکومت د رسنیو په مرکز کې د کورنیو چارو وزارت د لومړي مرستیال مولوي ... ۷مخ

## له پاکستان سره د ټرانزیټ بله لار پرانیستل شوه

شریعت: د کندهار ولایت په سپین بولدک ولسوالۍ کې له پاکستان سره بله سوداګریزه لاره هم پرانیستل شوه. د کندهار ولایت مقام رسنیز دفتر ویلي، چې د کندهار ـ چمن ترمنځ د ټرانزیت ځانګړې لار جوړه او تېره ورځ پرانیستل شوه. د مسؤلینو په وینا، چې دغه نوې لاره یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګریزو او ترانسپورټي ستونزو د حل په موخه رامنځته کړې، څو د دواړو هېوادونو ترمنځ په سوداګریزه راکړه ورکړه او ترانسپورټي برخه کې د پام وړ آسانتیاوې رامنځته شي. ویل کیږي، چې دغه لاره د سپین بولدک ولسوالۍ د کمیسارۍ او د کندهار د سوداګرۍ او پانګونې خونې پر هڅو د دې ولسوالۍ په زاړه کلي کې جوړه او د ټرانزیټ او هر ډول سوداګریزو مالونو د تګ راتګ پر مخ خلاصه شوه.

## کابل کې د افغاني تولیداتو ۷ ورځنی نندارتون جوړېږي

ټاکل شوې، د راتلونکې پنجشنبې په ورځ د صنعت او سوداګرۍ وزارت په هڅو د کابل د حضوري چمن په نړیوال نندارتون کې د هېواد د تولیداتو او محصولاتو اووه ورځنی نندارتون جوړ شي. د یاد وزارت د څرګندونو له مخې د دې نندارتون موخه د هېوادنیو تولیداتو او محصولاتو لپاره بازار موندنه، د سوداګرو تر منځ د اړیکو رامنځته کول او د هېوادنیو تولیداتو د ودې او پراختیا لپاره د خلکو هڅول دي. په دې نندارتون کې د لاسي صنایعو، طبي تجهیزاتو او درملو په ګډون د بېلابېلو سکتورونو کاني، صنعتي، کرنیز، ودانیز محصولات او تولیدات ننداري ته وړاندې کیږي.

## دافغانستان بانک برای حمایت از پروژه‌های عمرانی، تسهلات بانکی را فراهم می‌سازد



سرپرست د افغانستان بانک در دیدار با نماینده‌های شرکت ۷۷ ترکیه متعهد شد که تسهیلات بانکی را برای اجرای پروژه‌های عمرانی در کشور در اختیار آنها قرار میدهد.

د افغانستان بانک دیروز با نشر این خبر گفت: ملا هدایت‌الله بدری سرپرست د افغانستان بانک با نماینده گان شرکت ۷۷ ترکیه؛ ملاقات نمود.

این شرکت در بخش‌های ساختمانی و تخنیکی در افغانستان سرمایه گذاری خواهد کرد.

نماینده‌گان این شرکت در دیدار با سرپرست بانک مرکزی ... ص۷

### حج او اوقاف وزارت:

## له کام ایر هوایي شرکت سره د حاجیانو د لېږد او راستنیدو تړون لاسلیک شو

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت او کام ایر هوایي شرکت ترمنځ پرون ګډه ناسته ترسره شوه.

په دې ناسته کې د ارشاد، حج او اوقافو وزیر شیخ الحدیث نورمحمد ثاقب وویل: الحمدلله سږ کال دویم کال دی چې د افغانستان د اسلامي امارت د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د حج بهیر تنظیم او اداره کوي او په دغو دوو کلونو کې د کام ایر هوایي شرکت له دغه وزارت سره سعودي عربستان ته د حاجیانو د لېږد او رالېږد برخه کې همکاري کوي او د نورو اړوندو دولتي ادارو سره په همغږۍ مو هڅه وکړه چې دا پروسه په اغېزمنه توګه پرمخ بوځو او له کام ایر هوایي شرکت څخه غوښتنه کوو چې له دغه وزارت سره په همغږي د حاجیانو د لېږد او بیرته راستنیدو بهیر په ډېر اخلاص او جدي توګه تنظیم او... ۷مخ

## پاکستان کې د افغان سوداګرو ستونزې واورېدل شوې




د صنعت او سوداګرۍ سرپرست وزیر او ورسره مل پلاوي په کراچۍ کې د افغانستان جنرال کونسلګرۍ کې له افغان سوداګرو سره لیدلي دي. په دغه لیدنه کې د کراچۍ په ګمرکونو او بنادرو کې د افغان سوداګرو پر ستونزو او ورته د دایمي حللارې په اړه خبرې شوې دي. د صنعت او سوداګرۍ سرپرست... ۷مخ

## سلګونه افغان کډوال له پاکستانه هېواد ته راستانه شول

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت وایي چې په تېرو څو ورځو کې سلګونه افغان کډوال له پاکستان څخه هېواد ته راستانه شوي دي. د دغه وزارت د معلوماتو له مخې، د روانې ۷مخ


به جای خشونت از قانونیت کار گیرید — صفحه ۲

شهر پر هیاهو؛ مشکل آلودگی صوتی پایتخت چه زمانی حل می‌شود؟ — صفحه ۳

د نوي ژوند لپاره چمتووالی — ۵ مخ


### آلماني موسسې:

## افغانستان کې خپلو مرستو ته دوام ورکوو

د آلمان یوې غیرانتفاعي موسسې ویلي چې په افغانستان کې خپلو مرستو ته دوام ورکوي. د (ډي پي اې) خبري آژانس د خبر له مخې، د ویلتنګرهیلف په نامه دغې موسسې پرون د یوې اعلامیې په خپرولو سره دغه خبره کړې ده. یادې موسسې ویلي، کله چې تېره دسمبر میاشت په افغانستان کې په نادولتي موسسو کې د ښځو پرکار بندیز ولګېد، دوی د لنډې مودې لپاره خپلې پروژې وځنډولې.

### مولوی ذبیح الله مجاهد:

## سیستم قضایی افغانستان نسبت به گذشته بهتر شده است

سخنگوی امارت اسلامی افغانستان می‌گوید ادعاها و تشویش‌های یوناما در مورد چگونگی فعالیت محاکم در افغانستان بی اساس است.

مولوی ذبیح الله مجاهد سخنگوی امارت اسلامی در تویتی ادعاها و تشویش‌های یوناما در مورد فعالیت محاکم در افغانستان را بی اساس خوانده است. او گفته است، واقعیت این است که سیستم قضایی در افغانستان نسبت به گذشته‌ها به مراتب قوی شده، عدالت تأمین است و به حقوق هموطنان در پرتو احکام اسلامی رسیدگی صورت می‌گیرد. اگر هنوز هم در مورد پیشرفت‌ها و این دست آوردهای چشم پوشی صورت می‌گیرد و بی باوری به میان می آید، بی انصافی است. افغانان می‌دانند که اینجا عدالت به مفهوم واقعی آن وجود دارد که در نتیجه آن امنیت سرتاسری تأمین گردیده است، سیستم شفاف قضایی وجود دارد و هنوز هم بخاطر تقویت آن تلاش‌ها جریان دارد.

این در حالی است روز قبل فیونا فریزر، رئیس بخش حقوق بشر یوناما گفته بود؛ در ۶ ماه گذشته ۲۷۴ مرد و ۵۸ زن و ۲ پسر از سوی امارت اسلامی افغانستان شلاق زده شده اند. امارت اسلامی تاکید دارد که عملکرد آنان مطابق به دساتیر شرعی است که می‌تواند مصؤنیت اجتماعی را حفظ کند.

## سرمقاله

## پرشرعي سزاګانو د ((یوناما)) نیوکې سراسر بې منطقه دي!

د اسلامي امارت ویاند د یوناما وروستی راپور کاملاً بې اساسه ګڼلی او ترديد کړی یې دی، د یوناما په راپور کې راغلي وو افغانستان کې چې پر عام محضر نارینه او ښځینه و ته کومې بدني سزاګانې ورکول کېږي ملګري ملتونه یې په کلکه مخالفت کوي او دا د نړیوال منشور پر خلاف بولي، خو د اسلامي امارت ویاند ښاغلی ذبیح الله مجاهد وایي، چې د افغانستان اوسنی قضایي سیستم تر پخوا ډېر زیات شفاف او منظم دی او هڅې رواني دي چې نور هم شفاف او منظم شي. په دې اساس نو دلته چې کومې فیصلې کېږي بې له شکه چې پوره نظم او شفافیت په کې وي، خو بل لورته بیا زموږ لپاره تر ټولو زیاته خواشینونکې خبره داده چې د یوناما په یاد راپور کې له څرګندو ټکو سره پر سنګسار، درو وهلو او نورو بدني سزاګانو نیوکه شوې او دایي له نړیوال منشوره د افغانستان څرګند مخالفت ښودلی دی. مطلب دا چې د هغوی اعتراض یوازې پر قضایي سیستم او یا د شفافیت پر نشتوالي نه دی، بلکې په لنډو او څرګندو ټکو وایي چې بدني سزاګانې له نړیوال منشور سره په ټکر کې دي! د دې مانا دا شوه چې قضایي ادارې او محاکم که هر څومره شفافیت ولري، نړیوالې ټولنې ته دغه ډول سزاګانې د منلو او زغملو نه دي. د ملګرو ملتو دغه شان اعلامیې له شک پرته له اسلامي احکامو او لارښوونو سره ښکاره مخالفت لري، نتیجه دا شوه چې د ملګرو ملتونو په اعلامیو او منشوراتو کې د نړۍ دوو میلیاردو مسلمانانو عقایدو او باورونو ته هېڅ ارزښت نه دی ورکړې شوی، په دې ډول واضحه شوه چې کله د نړۍ پرمخ دریمې برخې انسانان په هېڅ نه شمېرل کېږي او د هغوی... ۲مخ

## دایکنډي کې له سلګونو مجاهدینو د سویې آزموینه واخیستل شوه




د دایکنډي د پوهنې ریاست مسوولین وايي، چې په یاد ولایت کې له ۳۱۰ مجاهدینو څخه د سویې د تثبیت آزموینه واخیستل شوه.

د دایکنډي د پوهنې رییس مفتي رحمت الله وایي، چې په دغه ولایت کې له ۳۱۰ مجاهدینو څخه ۷مخ

## بازدید ده‌ها گردشگر اروپایی، آسایی و امریکایی در یک هفته از بامیان



شریعت: در یک هفته‌ی اخیر، ده‌ها گردشگر خارجی، از جاذبه‌های تاریخی و طبیعی بامیان دیدن کرده‌اند.

این در حالیست که با روی کارآمدن امارت اسلامی، بازدید گردشگران خارجی و داخلی از جاذبه‌های بامیان، افزایش یافته است. ص۷

# فساد او مفسد

**اوومه برخه / مولوي نورالحق مظهري**

تعليمي فساد: يو له خطرناکه فسادونو دی چې هره ټولنه نه يوازې دا چې له ترقۍ او پرمختګ را ګرځوي د انحطاط او ورانۍ لوري ته يې کشوي تعليمي فساد دی.
تعليمي فساد هر هغه شی دی چې ښوونيز نظام له ستونزو او نيمګړتياوو سره مخامخ کوي او د جامع درس او تدريس مخه نيسي.
په ښوونيز نظام کې څلور مهم ارکان دي: استاذ، شاګرد، نصاب او طريقه؛ په دغو څلورو وارو کې چې هر يو د ستونزو او نيمګرتياوو سره مخ شي په ښوونيز نظام کې فساد پيدا کېږي.
که استاذ تکړه، متعهد او پوه نه وي معلومه خبره ده چې درسي بهير به له ستونزو سره مخ کېږي ځکه د ښوونې پيل له استاذه کېږي او چې استاذ نا اهل وي يقيني خبره ده چې د ښوونې پيل به نيمګړی وي.
که شاګرد پر درس کې کوښښ ونه کړي او د درس په ويلو کې بې غوري وکړي يقيني ده چې هېڅ شی به نه زده کوي او وخت به عبث وربانـدې تېرېږي.
که نصاب کامل او جامع نه وي او د وخت په تناسب د ټولنې ټولې اړتياوې په کې نه وي مراعات شوي ښکاره خبره ده چې ښوونيز بهير به هم نيمګړی وي ځکه نصاب د تعليم لپاره هغه مهم رکن دی چې استاذ او زده کوونکی دواړه يې له مخې ښوونه او زده کړه کوي، که نصاب نيمګړی وي زده کړې به هم نيمګړې وي، که نصاب له وخت او شرايطو سره برابر نه وي زده کړې به هم د وخت او شرايطو سره برابرې نه وي او که نصاب جامع نه وي له داسې نصابه فارغ کسان به هېڅ وخت د خپلې ټولنې ټولو اړتياوو ته جواب و نه وايي او نه هم به د يو هيواد په سياست کې فعال رول ولوبوي. او که طريقه د تعليم سمه او درسته نه وي معلومه خبره ده چې تعليم به له ډېرو ستونزو ډک وي او ټول تعليمي مراحل به نيمګړي وي.
په تعليمي بهير کې د فساد د مخنيوي لپاره بايد لانـدې ټکي په پام کې ونيول شي :
۱- د هر فن لپاره بايد مسلکي او متعهد استاذ غوره شي؛ په دې معنی سره چې د استاذ بايد فن زده وي او د تدريس ټولو اصولو ته پابند وي د بېلګې په ډول: درسونه قضاء نه کړي، پر وخت حاضر شي او پر وخت ولاړ شي، د تدريس لپاره پوره آماده ګي ونيسي يعنې مطالعه وکړي، کوم شی چې يې نه وي زده تر ځان د نورو پوهانو څخه دې پوښتنه وکړي او شاګرد دې تر سر نه تېروي.
۲- لومړی بايد په مدارسو کې شاګردانو ته د درس ويلو، مطالعې، تکرار او اباتې پوره زمينه برابره شي او بيا شاګردان د درس په ويلو، مطالعه او تکرارولو کې ډېر جدي وي او په پوره توګه خپل ټول درسي اصول او د مدرسې شرايط پر ځای کړي. طالبان بايد د اوونۍ په جريان کې چې د دوی د درس رسمي وخت دی له هر هغه کاره ځان وساتي چې د دوی وخت ضايع کوي او يا د دوی ذهن د درس او کتاب څخه اړوي د بېلګې په ډول: د ټليفون او انټرنټ څخه دې بې علمي ضرورته استفاده نه کوي، د مدرسې څخه دې بې ضرورته نه وځي، تفريحي مجلس او بانـډار ته دې نه ځي، د بې ځايه خوراک او خوبه دې ډډه وکړي، خپل تکرار، مطالعه، خوب، لمونځ، خوراک او استراحت دې د مدرسې لخوا د جوړ شوي مهالوېش سره سم وکړي او درس ته دې پر ټاکل شوي وخت حاضرېږي.
۳- د ښوونيز بهير لپاره بايد داسې جامع او کامل نصاب جوړ شي چې هم د طالبانو علمي تنده وربانـدې ماته شي او هم د ټولنې ټولې علمي اړتياوې په کې په پام کې نيول شوي وي د بېلګې په ډول: په نصاب کې بايد د استاذانو او زده کوونکو علمي استعداد د افادې او استفادې پر بنسټ په پام کې ونيول شي، نصاب بايد داسې جوړ وي چې د زده کړې او عملي کولو پايله يې ديانت، تزکيه، اخلاق، تعهد، اخلاص، مسلکيتوب، رهبري، مديريت، داعيت او علمي کمال وي چې يقيناً د داسې صفاتو درلودونکی فارغ به په خپله ټولنه کې ارومرو د هراړخيز خدمت جوګه ګرځي.
۴- د ښوونيز بهير او تعليمي نصاب د عملي کولو لپاره بايد داسې آسانه او منځنۍ طريقه غوره شي چې بېله کومې ستونزې يې استاذ د خپل تعليمي پلان له مخې پلې کړي او خپل زده کړي شيان په ډېرې هوساکۍ سره خپلو شاګردانو ته انتقال کړي، د تدريس په طريقه کې دا مهمه ده چې استاذ بايد د شاګردانو اړتيا او په شاګردانو کې منځنی استعداد درک کړي تر څو داسې تدريس وکړي چې هم د شاګردانو لپاره کافي وي او هم يې سر پرې خلاص شي.
په ښوونيز بهير کې له شاګرد سره د استاذ تعامل او اخلاق ډېر مهم دي ځکه په تدريس کې مهم هدفونه ښوونه او روزنه دي چې د صحي تعامل او سمو اخلاقو په ذريعه يې شاګرد د خپل استاذه اخيستلای شي.
همداسې د ښوونيز بهير په ښه والي کې درسي چاپېريال او د امتحاناتو لړۍ بنسټيز رول لري ځکه نو بايد دواړو ته ډېره پاملرنه وشي او د هر ډول نيمګړتياوو، درغليو، تزوير، تبعيض او جعلکارۍ څخه خوندي وي په خاصه توګه له فراغت وروسته د اسنادو توضيع کول چې په ځينو ځايونو کې د ځينو کسانو له خوا نا اهله انسانانو ته ورکول کېږي او يا هم د پيسو په مقابل کې وېشل کېږي چې دا کار د تزوير تر څنګ په تعليمي برخه کې د ډېرو فسادونو منبع ده.
په ښوونيز بهير کې د درسي ميتودونو، پلانونو او طرحو عملي کول او څارل هم د پام وړ ارزښت لري ځکه نو بايد په رأس کې د هرې علمي ادارې داسې کسان و ګمارل شي چې په تعليمي او اداري برخو کې د پوره اجرااتو توان او ظرفيت ولري.

# پرشرعي سزاګانو د «يوناما» ...

افکارو او نظرياتو ته څه پاملرنه نه کېږي نو بې له شکه ياده ټولنه بيا د نړۍ د ګردو ملتونو استازولي هم نه شي کولی، بلکې په څرګنده معلومېږي چې فقط د څو ځواکمنو زور واکو د ګټو ساتونکې اداره ده. بيا نو هغې ته نړيواله ټولنه او د ټولو ملتونو د استازولۍ نوم ورکول هم ناحقه دي. بل لورته د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د ظلم او وحشت داسې کړنې هم ترسره کېږي، چې د ګرد بشريت لپاره د شرم او بدرنګۍ لامل ګرځي خو ياده ټولنه بيا هم چوپه پاتې وي، تردې چې همدې نړيوالې امنيت شورا پر بې وزله افغانستان د امريکې او ناټو يرغل ته ښکاره اجازه ورکړه او بيا يې د هغوی په شل کلنو وحشتونو خوله هم چو له نه کړه. لنډه دا چې که د ملګرو ملتونو تر نامه لاندې دغه شان بې اساسه او ناقانونه څرګندونې کېږي او افغانانو ته همداسې ناحقه فرمايشات ورکول کېږي نو ډېراحتمال دی چې د افغان ولس په منځ کې به تشدد او تاوتريخوالی حتماً زياتېږي او ښايي دلته د ملګرو ملتونو له ټولو ادارو د عام ولس کرکه او نفرت کې بيخي زياتوالی راشي. ځکه افغانانو په تېرو څلورو لسيزو کې د خپلو عقايدو او ملي ارزښتونو لپاره بې مثاله قربانۍ ورکړې او ټول نړيوال پرې شاهدان هم دي.

# به جای خشونت از قانونیت کار گیرید

**احمد نوید**



فرهنگ شهری و شهر نشینی در جوامع بشری امروز از ویژگی‌های خاصی برخوردار است و مسؤلان امور را نیز وا می‌دارد تا در راستای تنظیم و تطبیق قوانین روی جاده، سرسبزی و صفایی شهرها، حفظ، رعایت و مراقبت معیارهای شهری، تنظیم دست فروشان روی جاده، عرضه خدمات شهری و... فعالیت‌های چشم‌گیر و قابل لمسی را به اجرا بگذارند؛ اما با تأسف که این روزها ازدحام بی‌حد وسایط روی جاده، بی‌نظمی و تنبیه فزیکی رانندگان توسط برخی از مؤظفین پولیس ترافیک، واکنش‌های را به همراه داشته که باید به صورت اساسی به حل این معضلات پرداخته شود.
هرچند شاروالی کابل نظر به امکانات دست داشته‌اش، فعالیت‌ها و تلاش‌هایش خیلی‌ها مثبت و قناعت‌بخش است و در چهره شهر کابل نیز تغییراتی رونما گردیده که شهروندان را امیدوار به یک شهر عاری از هر گونه آلودگی ساخته، اما پولیس ترافیک در قسمت تنظیم وسایط روی جاده و عدم ایستگاه‌های معیاری با معضلات بزرگی مواجه است که باید این نهاد در هماهنگی با نهادهای ذیربط به این نارسایی‌های شهری، نقطه پایان گذارد؛ زیرا در این همه سال‌ها به ویژه در دو دهۀ گذشته، مردم افغانستان شاهد بودند که خشونت و برخورد غیر انسانی و اخاذی‌ها، کار را به جای نرساند؛ جزء این‌که فاصله میان مردم و حکومت را بیشتر ساخت.
گرچه این مشکل را می‌پذیریم که شماری از رانندگان روی جاده نیز معیارها و قوانین ترافیک را به ندرت مراعات می‌کنند، اما برخورد برخی از مؤظفین پولیس ترافیک با رانندگان، این روزها آن هم در ملأ عام به هیچ معیاری تطابق ندارد، درست است که امروز یکی از معضلات در این راستا، نبود ایستگاه‌های معیاری، مطابق ماستر پلان شهری است که نه تنها پولیس ترافیک، بلکه بیشتر شاروالی کابل، وزارت شهرسازی و دیگر نهادها در زمینه مسؤل اند که باید به این معضل رسیدگی شود؛ مگر این را هم می‌پذیریم که تنظیم شهر، تطبیق قوانین شهری و تحقق قانون ترافیک روی جاده، یک شبه حل نمی‌شود، بلکه نیاز به زمان دارد، اما برخورد غیر انسانی و ضربه زدن با چوب و دنده بر وسایط، بیش از این‌که از زبان قانون استفاده شود؛ ضعف فرهنگی ما را به نمایش می‌گذارد.
بناءً این مسأله را باید اذعان نمود که در بزرگ‌ترین شهرهای جهان، به خاطر تطبیق قانون، قانون شکنی رانندگان، جلوگیری از حادثات ترافیکی و تنظیم بهتر جاده از فرهنگ جریمه مالی استفاده می‌کنند تا ترافیک جاده به صورت بهتر مدیریت شود، اما بعد از حاکم شدن دوباره امارت اسلامی در افغانستان، جریمه و قانون جریمه، ملغی قرار گرفت، که باید در این زمینه در صورت امکان، تجدید نظر صورت گیرد تا پولیس ترافیک به جای تنبیه فزیکی و تخریب وسایط شخصی مردم که یقیناً در تضاد به جامعۀ انسانی و اسلامی است، از تنبیه مالی (جریمه) به خاطر تنظیم بهتر جاده کار گیرند تا زمانی‌که نهادهای ذیربط مؤفق به ایجاد، ایستگاه‌های معیاری گردند.
بنابرین این مسأله را نباید از یاد برد که نبود بس‌های شهری یا ملی‌بس نیز باعث شده تا اکثریت وسایط شخصی و سکتور خصوصی به فعالیت آغاز کنند که افزایش این وسایط نیز به ازدحام ترافیک جاده افزوده و بی‌نظمی را به بار آورده است که در این زمینه ریاست ملی بس نیز باید با ترمیم وسایط و یا هم خریداری بس‌های جدید، عرضه خدمات شهری خویش را وسعت دهد و ریاست ترافیک کابل نیز در تبانی با مسؤلان اتحادیه‌های ترانسپورتی شهری به حل این معضل بپردازد تا به بی‌نظمی‌های شهر به ویژه ترافیک جاده، نقطه پایان گذاشته شود و کرامت انسانی رانندگان نیز حفظ گردد.

# خوارج له صدر اسلام څخه، بيا د نن تر دواعشو

**شپږمه برخه / عبدالرحمن محمود**

د خوارجو معتقدات او د مسلمانانو وينه ځان ته روا بلل او کافران ورته ويل.
قديم خوارج په دې عقيده و، چې ايمان د قول او د زړه له تصديق او له عمل کولو جوړ دی، که چا يو واجب پرېښود، يا يې يوه ګناه وکړه لږ برخه د ايمان يې ولاړه، چې لږ ايمان يې ولاړ، ټوله ورسره ولاړ، نو که څوک يو واجب پرېږدي او يا لويه ګناه کوي هغه کافر دی، د لويې ګناه په اړه په تفسير کې دوی يوه خوله نه دي، ځينې وايي لويه ګناه هغه ده چې حد په کې راغلی وي، لکه غلا، زناء، قتل او ځينې بيا وايي چې يوه کچنۍ ګناه چې څوک يې دائم کوي او توبه ورڅخه و نه باسي هغه سړی کافر دی.
لنډه دا چې ګنهکار مؤمن د اکثريت خوارجو په نزد کافر دی او داسې کافر دی لکه مشرک کافر، فقط د خوارجو يوه ډله د ((اباضيه)) په نوم ده هغوی وايي کافر دی، خو په دې معنی چې کفران د نعمت يې کړی، په دې معنیٰ نه چې له ملت يعنې له اسلامه وتلی، امام ابو الحسن الاشعري ليکي( و من قول اکثر الخوارج ان کل ذنب مغلظ کفر، و کل کفر شرك، و کل شرك عبادة الشيطان)
د اکثريت خوارجو دا خبره او عقيده ده چې هره لويه ګناه کفر ده او هر کفر شرک دی او هر شرک د شيطان عبادت دی.
د دوی يو شاعر وايي (و من يكن مضيعا لواحد -- منها استحق هلكة المعاند
لانه ان هدم البعض انهدم -- جميعه و ذا هو القول الاتم)
که چا يو له دغو پرېښود(قول په خوله، تصديق په زړه، عمل په اعضاوو) هغه د کافر په څېر د وژلو مستحق دی، ځکه چې ايمان کله لږ ونړېږي ټول نړېږي او همدغه مسلک او عقيده زموږ کامله ده. دوی دليل په دې ايت شريف وايي چې الله جل جلاله فرمايلي دي( وهل نجازي الاالكفور. سورة سبا) موږ جزاء نه ورکوو، نه مګر يوائې کافرانو ته يې ورکوو، نو جزاء خو الله تعالی ګناهکارانو ته هم ورکوي(ومن يقتل مؤمنا متعمدا فجزاءه جهنم) که څوک يو مؤمن په قصد سره و وژني، د هغه جزاء دوزخ دی، نو قاتل ګناهکار دی الله تعالی جزاء ورکوي او جزاء يوائې کافرانو ته ورکول کېږي، نو نتيجه دا ده چې ګناهکار هم کافر دی. همدا ډول دوی وايي چې الله جل جلاله فرمايلي ( يوم تبيض وجوه، و تسود وجوه، فاما الذين اسودت وجوههم اكفرتم بعد ايمانكم. الاية ال عمران) د قيامت په ورځ به ځينې مخونه سپين او تور وي، هغه کسان چې مخونه يې تور وي هغوی ته به وويل شي چې تاسې د ايمان وروسته بېرته کافران شوي يې؟
نو ګناهکاره انسان فاسق دي او د فاسق په هکله دوی وايي(والفاسق ممن وجهه مسود بالمعصية فيكون كافرا) فاسق له هغو کسانو دی چې مخ يې په ګناه تور وي، د چا چې مخ په ګناه تور وي، هغه کافر دی. بل دوی دليل په دې ايت شريف وايي چې ( وسيق الذين كفروا الى جهنم زمرا.... و سيق الذين اتقوا ربهم الى الجنة زمرا. سورة الزمر) کافران دوزخ ته شړل کېږي او متقيان جنت ته، فقط دغه دوه قسمه خلک دي د قيامت په ورځ، نو ګناهکار خو متقيان نه دي، چې په متقيانو کې نه شو داخل نو په کافرانو کې داخل دي. بل دليل په دې ايت شريف کې چې الله جل جلاله فرمايلي دي(خلقكم فمنكم مؤمن و منكم كافر) الله تعالی تاسې پيدا کړي ياست، ځينې ستاسې څخه مؤمنان دي او ځينې کافران دي، دريم قسم نشته، نو ګناهکار په کافرو کې داخل دي. همدا افراط او غلو في الدين چې هر ګناهکار ته دوی کافر وايي او واجب القتل يې بولي، د مفاسدو اساس دی، له همدې خباثت څخه دا جرئت پيدا کېږي چې پر ټول امت مسلمه د کفر او ارتداد ټاپه ووهي، کټ مټ لکه د نن ورځې داعشي خوارج چې پر ټول امت مسلمه يې د کفر او ارتداد حکم صادر کړی او هر چېرې چې مسلمانان وي دوی هلته ورسره په جنګ وي. د قديم خوارجو مارقه و د شبهاتو ځواب

**... نور بيا**

# شهر پر هیاهو؛ مشکل آلودگی صوتی پایتخت چه زمانی حل می‌شود؟

**اسفندیار**

شهر کابل شاید از معدود شهرهای جهان باشد که آلودگی صوتی در آن بی‌داد می‌کند. افزایش تراکم جمعیت، قلت شغل، عدم برخورد سفت و سخت با عاملین آلودگی صوتی و بسا موارد دیگر در این شهر سبب شده تا یک شهر پر هیاهو با میزان بلند آلودگی صوتی داشته باشیم. هرچند در یک سال پسین شهرداری کابل با جمع آوری دست فروشان سیار و ایجاد مارکیت‌ها برای آنان سهم قابل ملاحظه‌ای در خصوص کاهش آلودگی صوتی در داخل شهر داشته است. اما حواشی شهر، کوچه‌های فرعی و مکان های مسکونی هنوز هم از این پدیده رنج می‌برند. رشد سرسام آور دست فروشان و آیسکریم فروشان در سطح شهر کابل، آرامش خانواده هارا به هم ریخته و سلامتی آنان را نیز با خطرهای جدی مواجه نموده است. دست فروشان و فروشندگان آیسکریم های سیار، با بلندگوهای بلند و صداهای دلخراش، یکی پی دیگری و بدون وقفه، در کوچه های شهر کابل، حتی در ناوقت های شب مشغول داد و ستد استند. یکی در انتهای کوچه نمی‌رسد که دیگری از سر کوچه بلندگوی کراچی خودرا روشن می‌کند. این فروشنده‌ها معمولا کسانی استند که نان قاق می‌خرند، ماشین خیاطی درست می‌کنند، سبزی های فروشی میاورند، کراچی آیسکریم دارند و کتاب های فرسوده را خریداری می‌کنند. علاوه بر مشکلات اخلاقی، امنیتی و صحی که به وجود می‌آورند، صدای بلندگوهای شان به اندازه بلند است که به گوش تمامی اهالی کوچه می‌رسد و سبب آزار واذیت آنان می شود. از لحاظ روحی روانی آلودگی صوتی به شدت بالای روح و روان مردم تاثیرمنفی می‌گذارد و مشکلات متعددی صحی را به وجود میاورد.



یکی از بارز ترین پیامدهای ناشی از آلودگی صوتی را می‌تواند اختلالات روحی روانی گفت؛ آلودگی صوتی، تاثیرات بسا منفی بالای روح و روان مردم دارد. آگاهان میگویند، صداهای آزاردهنده، مشکلات روحی و روانی را نزد افراد به وجود میاورد و این بیماری را شدت می‌بخشد. تحقیقات نشان میدهد که آلودگی صوتی تاثیرات منفی روی شنوایی، قلب و عروق، استرس، اضطراب، سردردی، خستگی، سرگیجی و اختلال در سیستم گوارش دارد. از طرف دیگر مشکل دیگر آلودگی صوتی توسط دست فروشان، مشکلات عدم تمرکز ذهنی و فکری برای متعلمین، دانشجویان و فعالیت های فکری می باشد.

همچنین آلودگی صوتی میتواند تاثیرات خیلی آزار دهنده برای مریض و مریضداران داشته باشد. صدای بلندگوی کراچی داران و آیسکریم فروشان سبب می‌شود آرامش و استراحت مریض به هم بخورد و باعث ناآرامی اش بیشتر می گردد. افزون بر آن کسانی که بیماری روحی و روانی دارند، از سر و صدا به شدت متاثر می‌شوند و بیماری شان شدت پیدا می‌کنند.

با این وصف می‌شود برخی اقدامات و راه حل‌ها را به منظور جلوگیری از آلودگی صوتی روی دست گرفت که با اعمال آن آقدامات میزان آلودگی صوتی را در شهر کاهش داد. نخستین راهکار، جای‌گزین و نصب تابلو یا ورق، به جای بلندگوهای مزاحم است. کراچی داران و فروشندگان باید قیمت اجناس و کیفیت آن را در روی ورق ها بنویسند و در روی اجناس نصب کنند؛ چون اکثرا سواد خواندن و نوشتن رادارند و راحت تر می‌توانند نوشته هارا بخوانند. در این صورت می‌توان از آلودگی صوتی در کوچه‌ها و شهر و بازار جلوگیری کرد و هم جنجال فروشنده های سیار وکراچی داران کم می‌شود. داخل شهر نیز موتر داران بجای سرو صدا، از تابلو و لوحه استفاده کنند که کجا می روند و مسیر شان کدام قسمت ها است. چون فعلا یکی از آلاینده های مهم صوتی در شهر کابل، هارندها، سرو و صدای موترداران به خاطر جمع کردن مسافران است، در ایستگاه های موترها حتی صداها قابل تشخیص نیست.

در کنار این موارد آنچه میتواند گام اساسی در راستای کاهش آلاینده های صوتی باشد تهیه استندردها و طرزالعمل های در این مورد و به دنبال آن توقف ماشین های آیسکریم فروشی و کراچی های سیار، در صورت عدم رعایت استندردها و طرزالعمل‌ها می‌باشد.

با این همه آلودگی های صوتی به عنوان یک معضل اجتماعی مطرح است و باعث بروز عدیده‌ی از مشکلات از جمله برهم زدن آرامش مردم می‌شود. پخش صداهای دلخراش توسط فروشنده های سیار در کوچه های کابل، آرامش خانواده هارا نیز به هم زده و سلامت روحی و جسمی شان را به خطر انداخته است. به خاطر این سر و صداها، مردم نمی توانند درست استراحت کنند، درس بخوانند، مطالعه داشته باشند، بیماران روحی و روانی بهبود یابند و به کارهای فکری و ذهنی شان رسیدگی کنند.

# کوزني قوم پرستان او برني حکومتونه!

**وحیدالله مصلح**

دا ډېر وخت کېږي چې د افغانستان د تحولاتو په اړه د کوزنیو پښتنو ملتپالو موقفونه گورم او تحلیلوم یې، هغوی په یوه نظریاتي محاذ ارایی کې واقع دي، دغسې موقفونه د کوزنیو ملتپالو په مبارزه کې تاریخي ریښې لري او دوی په خپلو فکري او نظریاتي توپیرونو کې د موقفونو دا جبر منلی دی.

د افغانستان په اړه کوزني ملتپالي پرله پسې په دوو لویو تېروتنو کې روان دي او دې تېروتنو هغوی دلته د ټولمنلتوب پر ځای تل متنازع ساتلي دي:

حکومتي او ولسي اړیکې!

په تاریخي لحاظ کوزنیو نېشنلیانو دلته د ملت او ولس په کچه روایات او اړیکې کمې پاللي یوازې پاچاخان په کې داسې و،چې هغه د انگلیس پر ضد مبارزه کې دلته په وطن او ولسونو گرځېده او قومي اړیکې یې پاللې، خو وروسته چې کله د هغه ولسي مبارزه په گوندي قالب کې ایساره شوه نو هغه هم د گوندي نظریاتي حدودو پابند شو او دلته یې یوازې په حکومتي راشه درشه اکتفا وکړه.

نېشنلیانو د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه مرحوم په واکمنۍ کې په شاهي پاملرنو کې د ناز ژوند لرلو، دلته یې په کابل کې حوېلۍ وې، په جلال آباد او نورو ولایتونو کې یې ځایونه درلودل، په ننگرهار پوهنتون او خوشحال خان و رحمان بابا په لېسو کې یې د تعلیم او تحصیل بندوبست درلود، کله به چې پرې د هغه مهال صوبه سرحد ځمکې تنگې شوې،نو کابل او جلال آباد به یې پناه ځایونه وو او دلته به یې نړۍ ته خپله خبره او دعوه ویله، پر محمد ظاهرشاه باندې چې محمد داوودخان کودتا وکړه؛ دوی په کې سترگې بدلې کړې او د ظاهرشاه د ټولو ښو صله دا شوه چې دوی شاهي پسخندوله او د جمهوریت په خوان کېناستل، داوودخان دوی په لا جدیت او شدت وپالل او کابل د دوی د مزاحمتي فعالیتونو او حقونو لوی تریبون وگرځېد.

پر داوودخان کودتا وشوه او تره کی راغی او دوی په کې سره انقلابیان شول، امین کودتا وکړه او دوی په کې امینېستان شول، د کارمل په کودتا سره دوی تر پرچمیانو ډېر پرچمیان شول، په پېښور کې به یې په هر دېوال (ببرک-ولي، بهای بهای) شعارونه لیکلي وو، شورویانو ببرک لرې کړ او نجیب ته واگې وسپارلې، په دې ټولو جریانونو کې دوی سرسخته حکومتیان پاتې شول.

نېشنلیانو په دې منځ کې هېڅکله حکومتي اړیکې پر ولسي اړیکو د اړولو هڅه ونه کړه، حتی همغه افغانان چې د شورویانو او د هغوی د لاسپوڅو له لاسه خیبر پښتونخوا ته کډه شوي وو؛ دوی لپاره د ولسي اړیکو یو ښه فرصت و خو دوی ورسره د راشه درشې او عزیزولۍ رشته نه ونه شو پاللی، سرچپه یې ورته په کنځلو او سپورو د اجنبیت او دښمنۍ احساس ورکولو. نېشنلیان تر دې دمه په همدې خطا کې روان دي او دوی سره له دې چې ځانونه په ملتپالنه کې د جمهوري اقدارو پالونکي بولي خو په همدې جمهوري لاره دوی په ولسي اړیکه کې خوار او زار دي.

نشنلیان او اسلاموفوبیا!

د تېروتنو بل لوی مورد دا دی ،چې دوی بیا په همدې حکومتي اړیکه کې هم د دوه گوني تعامل ښکېلتنان دي، کوم حکومتونه چې پر سکولارېسم باورمند دي او اسلامپاله داعیه ونه لري، د دوی ورسره پخه یاري ده او دوی ورسره شات او شکر دي خو که کله هم واک ته اسلامپالي راغلي نو دوی په کې تل مقابل محاذ نیولی دی.

که دوی وایي چې د اسلامپالو داعیه پر قامي اړیکو نه ده راټوله، نو ولې پخواني چپي حکومتونه انټرناسیونالېستان نه وو څه؟ د ثور په کودتا سره لویو لویو بنسټونو ته خلقي نوم او رنگ ورکول شو، درې رنگه ملي بیرغ پر سره خلقي بیرغ واوښت او تره کي چې د ارگ پر برج خپل گوندي سور بیرغ پورته کولو، نو همدې قامپرستانو ورته کټل او خلقي ځوانانو او انجونو ورته اتڼونه کول او بیا چې کله تره کي د افغانستان پر اردو غږېده نو د ملي اردو پر ځای به یې ورته خلقي اردو ویله، د مارکس فلسفه پر وطنیت او قومیت نه څرخېده بلکې هغه د نړۍ کارگرانو ته غږېده، دا ټول حقیقتونه د تاریخ په اسنادو او ارشیفونو کې شته.

که دوی ښکته په خیبر پښتونخوا کې له اسلامپالو سره لږ د عزت اړیکه ساتلې او دوی په کې د افغاني مېلمه پالنې ارزښت حداقل پاللې وای نو اسلامپالو به له دوی سره د اجنبیت خوی نه کولی، خو دوی په هر ډگر د اسلامپالو مخالفت کړی او په هره لاره ترې جلا تللي دي.

نېشنلستان پرون هم په سیاسي او نظریاتي پاراډوکس کې اخته وو او نن هم، پرون یې هم ویل چې دا جنگ د روس او امریکا دی او نن هم ورته خبره کوي.

خو دوی پرون هم د شورویانو په جبهه کې ولاړ وو او بیا هم په لنډ تېر شوي تحمیلي جنگ کې د ناټو په جبهه کې ولاړ وو او چې ناټو لاړه اوس په وسله وال مقاومت کې دلچسپي لري.

کوزني ملتپالي سره له دې چې د داسې قام لپاره مبارزه کوي چې اسلام یې تن وجود دی، خو دوی په دې مبارزه کې ځکه له خپل قامه بېگانه دي چې نظریې یې سره جوختې نه دي، له همدې امله که کابل کې اسلامپالي واک ته راځي نو دوی بیا په کې بېگانه وي او حتی د دښمن په کرښه پټ پټونی کوي.

کوزنیو قومپرستانو ته په کار ده چې د افغانستان په اړه طبیعي و اوسېږي، دوی دې دلته د نظریاتي اړیکو پر ځای ولسي اړیکې ولري، اوس چې واک ا.ا.ا.ا تر لاسه کړی، دوی باید په افغانستان کې د سولې، زغم او شراکت ارزښتي او اخلاقي رغنده بحثونه او حمایت وکړي، دوی باید د جنگ د درېدو او افغان ملت د دربدریو د مخنیوي سیاست غوره کړي، د جنگ ترخه موږ لیدلې او افغانان نور نه غواړي چې په جنگونو کې یې بچیان تباه شي.

# اسلام آباد کې د شپږمې درې اړخیزې غونډې لاسته راوړنې

**رحمت الله فیضان**

تېره جمعه د ثور میاشتې په ۱۵مه د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د وزیر مولوي امیرخان متقي په مشرۍ لوړ رتبه پلاوی اسلام آباد کې د شپږمې درې اړخیزې غونډې په موخه چې افغانستان، پاکستان او چین په کې ګډون درلود اسلام آباد ته وخوځېد .

ښاغلي متقي د دې غونډې تر څنګ د چین او پاکستان له بهرنیو چارو وزیرانو سره دوه اړخیزې غونډې هم تر سره کړې چې د بحث محور یې پر سیاسي، تجارتي اړیکو، سیمه‌ییز ثبات او ټرانزیټ را څرخېده .

د افغانستان او چین د بهرنیو چارو وزیرانو ترمنځ غونډه د چیني څارونکو او شنونکو له لوري هم استقبال شوه ؛ډېرو چینایي شنونکو د دې غونډې په غبرګون د ټولنیزو شبکو له لارې څرګنده کړه چې : افغانستان په سیمه کې مهم سیاسي ، تجارتي او ترانزیټي هیواد دی ؛باید هڅه وکړای شي، چې د دوو اړخیزو سیاسي او اقتصادي ګټو په رڼا کې له افغانستان سره روابط غښتلي کړای شي او د افغانستان د کورنیو مسایلو په نظر کې نیولو پرته د افغانستان له نوي حکومت سره تجارتي اړیکې جوړې شي .

همدا راز د پاکستان د بهرنیو چارو له وزیر بلاول بوټو سره په دوه اړخیزه غونډه کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر د افغانستان–پاکستان پر اړوندو سیاسي–اقتصادي ،تجارتي، ټرانزیټي اړیکو او په یادو برخو کې د لازمو تسهیلاتو د رامنځته کولو په باب هراړخیزې خبرې وکړې، دغه راز په غونډه کې د افغان مهاجرینو او سوداګرو ،محصلینو او هغو ناروغانو چې د درملنې لپاره پاکستان ته ځي د اسانه تګ راتګ په تړاو هم اغېزمن بحثونه ترسره شول.

یو امریکایي جنرال پاکستان کې د افغانستان، پاکستان او چین درې اړخیزې غونډې په اړه لیکلي : پاکستان به تل موږ ته ویل : چې طالبان زموږ تر اغېز لاندې دي ؛هرڅه چې موږ ورته وایو هماغه مني ؛ دوی مادیات پرسته او پیسه دوسته خلک دي چې موږ ته یې تل دروغ ویل ؛ طالبانو نړیوالو ته ثابته کړه چې دوی مستقل او د هېچا تر اغېزې لاندې نه دي .

پاکستان کې د شپږمې درې اړخیزې غونډې پای کې یوه ګډه اعلامیه هم صادره شوه چې په دغه اعلامیه کې : له افغانستان سره امنیتي، تجارتي، انکشافي او سیاسي برخو کې همکاري ، د افغانستان د اقتصاد پر بیارغونې او د افغانستان په محوریت پر سیمه ییز اقتصادي اتصال ، د درېیو هېوادونو تر منځ د تجارت، ټرانزیټ او خلکو ترمنځ تګ راتګ کې اسانې راوستل، پر سیمه ییز ثبات ټینګار، چې هېڅ لوري له درې ګونو ګډونوالو څخه به پر خپل قلمرو هېڅ فرد، ډلې او یا کوم لوري ته اجازه نه ورکوي چې د بل پرخلاف یې وکاروي؛د افغانستان په کورنیو چارو کې پر نه لاس وهنې ټینګار وشو.

پر افغانستان د یو اړخیزو بندیزونو لرې کولو او د افغانستان د مرکزي بانک کنګل شویو بانکي زېرمو د خلاصون غوښتنه او نور ډېر څه په کې شامل وو.

د دې کنفرانس په څنډه کې د بهرنیو چارو او تجارت وزیرانو او مل پلاوي اسلام آباد کې د پاکستان د سیاسي ګوندونو له یو شمېر مشرانو سره غونډه ترسره کړه چې په کې د ۱.۱.۱ له راتګ سره د راغلو پرمختګونو برسېره د افغانستان او پاکستان پر ګډو دوو اړخیزو مشترکاتو، سیاسي، تجارتي، ټرانزیټي او اقتصادي ګټو خبرې وشوې.

دغه راز د غونډې ټولو برخوالو ټینګار وکړ چې د دواړو ګاونډیو هیوادونو د حکومتونو او ولسونو ترمنځ دې نژدېوالی راشي او په ازادانه ډول دې د دواړو ولسونو لپاره د تګ راتګ زمینه برابره شي.

په دې غونډه کې مولانا فضل الرحمن، سراج الحق، محمود خان اڅکزي، ایمل ولي خان او یو شمېر نورو سیاسي مشرانو ګډون کړی و.

د سیاسي شنونکو په باور د پاکستان له سیاسي ګوندونو سره کار د افغانستان پر ګټه دی. په اوسنۍ نړۍ کې ټول هېوادونه هڅې کوي چې په نورو ملکونو کې د خپلې اغېزې په پار له سیاسي ګوندونو سره اړیکې ولري. دافغانستان او پا کستان تېرو ترېنګلو اړیکو ته په کتو دا شان اړیکې ډېرې مهمې دي.

د هېواد د بهرنیو چارو وزیر اسلام آباد کې د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز کې د رسنیو په وړاندې د وینا په موخه هم ګډون وکړ د ښاغلِي متقي د وینا په باب خبریال سمیع یوسفزي لیکلي: د بهرنیو چارو وزیر د اسلام آباد د ستراتیژیکو اړیکو په مرکز کې له لیکچر ورکولو وروسته د نړیوالو او پاکستاني ژورنالستانو ګرمو ، تندو او نرمو پوښتنو ته داسې د دیپلوماسۍ او احتیاطي الفاظو په چوکاټ کې د ننه د پالیسیو مطابق جوابونه ورکړل چې نه یې سیخ و سوزولو او نه کباب ؛ اکثره ژورنالستانو د ټي ټي پي په اړه پوښتنې لرلې خو متقي صیب د امارت موقف په داسې انداز بیان کړو چې نه یې ټي ټي پي او نه یې کوربه پاکستان خفه کړ او نه یې هم په دې اړه ژورنالستانو ته کوم بریکنګ نیوز پر لاس ور کړو .

د بهرنیو چارو وزیر د پاکستان د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز کې د خپلې وینا په ترڅ کې وویل: اسلامي امارت ته په بهرنیو مرستو متکي نظام په میراث پاتې و، خو اسلامي امارت له دې مرستو پرته دولتي ادارې په چټکۍ سره بیا فعالې کړې ښاغلي متقي زیاته کړه : د اسلامي امارت په راتګ سره نه یوازې بهرنۍ مرستې بندې شوې بلکې دولتي ادارې د برېښنا د بېلونو او نورو لګښتونو له اړخه قرضداره وې ؛د دولت خزانه خالي وه او تېر رژیم هېڅ هم نه وو پرېښي ؛ د دې ترڅنګ له مالي او بانکي بندیزونو سره مخامخ شو چې پایله کې ډېرو هېوادونو بانکي تعاملات په ټپه ودرول او ډېرو نورو هېوادونو خپلې دروازې د افغانانو پر مخ وتړلې صادرات او وارداتو مو له فشارونو سره مخ او حتی له بهره د خامو موادو د اخیستلو په موخه مو بانکونه د پیسو له انتقال څخه عاجزه وو له دې ټولو ننګونو سره سره د دولتي دستګاه مصارف د تېر په څېر وو ؛ دا یوازې عادي مصارف هم نه وو،بلکې موږ له سره د هیواد امنیتي ځواکونه را منسجم کړل چې دا هم یو اضافي مالي بوج و ؛ دا ډول بوج په ډېرو پر مخ تللو حکومتونو چې قوي ازمایل شوي کدرونه هم لري خورا درانده دی؛ اسلامي امارت په ډېر چټکۍ سره ادارې یو پر بل پسې فعاله کړې چې له برکته یې بانکونه او خزانه بېرته ډکه کړه ؛ د افغانۍ ثبات یې و ساته انفلاسیون یې مدیریت کړ د مامورینو شمېر یې تر یو میلیون پورې ورساوو ، ملکي خدمات یې تر پخوا شفاف او ګړندي کړل .

د بهرنیو چارو سرپرست وزیر مولوي امیرخان متقي د اسلام‌آباد د ستراتیژیکو مطالعاتو په مرکز کې دا هم وویل چې اسلامي امارت سیمې او نړۍ ته د تعامل، ګډ کار او اقتصاد محوره سیاست پیغام ورکړی ، سیمې ته مو مرکزي پیغام د اقتصاد محوره بهرني سیاست و،چې اقتصادي اتصال او ترانزیټ په کې مرکزي ټکی و .

زموږ د اقتصادي اتصال د سیاست یو مهم لوری پاکستان و ؛ موږ په سیمه کې د افغانستان له لارې د اقتصادي اتصال په تړاو بشپړه لېوالتیا لیدله خصوصاً منځنۍ آسیا او جنوبي آسیا کې ؛ ومو کولای شوای چې دا د لسیزو خوب ډېر ژر رښتیا کړو ؛ د دې سیاست ګټه یوازې افغانستان نه بلکې خصوصاً د پاکستان او منځنۍ آسیا مشترکه ګټه وه .

بله هغه موضوع چې د بهرنیو چارو وزارت وزیر مولوي امیرخان متفی د پاکستان د ستراتیژیکو مطالعاتو په مرکز کې ورته اشاره وکړه هغه د سمیز اتصال او اقتصاد موضوع وه ده وویل: موږ په سیمه ییز اتصال او اقتصاد کې د پام وړ ګامونه اخیستي او خپل رول مو آدا کړی دی د ټاپي له پروژې را نیولې بیا تر کاسا ۱۰۰۰؛ټاپ ۵۰۰ د وسپنې پټلۍ ، افغان ټرانس او همدا راز د افغانستان له لارې د جنوبي آسیا او مرکزي آسیا د اتصال په برخه کې مو د پام وړ پرمختګ کړی،چې ځینې یې ملموسې لاسته راوړنې هم لري د مثال په ډول تېره اوونۍ له ترکمنستانه د افغانستان له لارې پاکستان ته د ګازو د لېږد بریالۍ پروسه وه ؛ موږ ژمنو یو چې دا ازمایښتي پروسه په دایمي پروسه بدله او قانونمنده کړو ترڅو د افغانستان ، پاکستان او ترکمنستاني ګټې خوندي شي .

د نشه یي توکو په اړه مولوي صاحب متقي وویل: اسلامي امارت د نشه‌يي توکو د کښت او قاچاق کچه صفر کړه او د ۴ میلیونه په نشو اخته افغانانو درملنه یې پیل کړه ؛ د مېرمنو د کار او فعالیت په باب یې زیاته کړه چې د روغتیا ، تعلیم او نورو برخو کې کار او فعالیت لري ده زیاته کړه موږ په ښوونځیو کې ټول ټال لس میلیونه زده کوونکي لرو په دې ډله کې تر شپږم ټولګي پورې نجونې هم شاملي دي ؛ له هغه ور اخوا ځوانان ښوونځیو ته ځي پوهنتونو ته ځي په دې سلسله کې موږ د معارف په برخه کې درې سوه زرو استادانو ته امتیازات ور کوو چې له دې ډلې نوي زره ښځینه استادانې دي همداراز د روغتیا په برخه کې په زرګونو ښځینه ډاکټرانې او نرسانې په کار بوختې دي .

د مېرمنو د تعلیم او تحصیل په اړه د بهرنیو چارو وزیر وویل: موږ هېڅکله نه دي ویلي، چې د مېرمنو تعلیم او تحصیل حرام دی او نه مو د دوی د تعلیم او تحصیل د ابدي ممنوعیت خبره کړې ده ؛ موقت تعطیل د حرمت او ممنوعیت په مانا نه دی .

د بهرنیو چارو وزیر او مل پلاوي د پاکستان پلازمېنې اسلام آباد کې د افغانستان د لوی سفارت په مقر کې پاکستان مېشتو افغان تجارانو، د مهاجرینو استازو او یو شمېر نورو مخورو ترمنځ جوړې شوې غونډه کې هم ګډون وکړ ؛ ښاغلي متقي پاکستان مېشتو افغانانو ته د خپلې وینا په ترڅ کې وویل: نن چې په ګاونډیو هېوادونو کې د زراعت او صنعت په برخه کې کوم پرمختګونو را منځته شوي دي ، په دې کې د افغانانو ستر رول دی، موږ د هېچا د اوړو بار نه یو او له دوی مو غوښتنه کړې چې د یو سیال په څېر روابط او راشه درشه را سره و پالي او په دې برخه کې په ځینو میکانېزمونو هم غور شوی، هیله من یم چې په پاکستان کې به د مېشتو افغانانو لپاره سهولتونه را منځته شي .

د سیاسي شنونکو او تحلیلګرانو له لوري د افغانستان د بهرنیو چارو د وزیر مولوي امیرخان متقي پاکستان وروستی سفر مثبت ارزول شوی او هیله یې څرګنده کړې چې د چین، پاکستان او افغانستان ترمنځ روابط د استحکام پر لور روان دي .

# چې دا ځینې خلک ولې پر حقایقو سترګې پټوي؟

**امین وردګ**

نه پوهېږم چې دا ځینې خلک ولې داسې دي، سترګې لري، خو بیا هم ړانده دي؟ غوږونه لري، خو بیا هم کاڼه دي؟ پوهېږي، مګر بیا هم ناپوه دي؟ ام... ښه! ښه! اوس راپام شوا! دوی خو الله پاک په قرآن کریم کې هم یاد کړي چې فرمایي؛ ژباړه: ((دوی لره زړونه شته، خو پوهه نه شي پرې حاصلولی؛ دوی لره سترګې شته، خو څه نه پرې ویني او دوی لره غوږونه شته، مګر څه نه اوري...)) او د دغې آیت په سر کې یې واضح او صریح فرمایلي چې: یانې زیاتره د پېریانانو او انسانانو داسې دي چې زړونه لري خو پوهېږي نه او...

الله پاک چې په دې هکله وضاحت ورکړی، نو بیا یې په پای کې دا هم پسې فرمایلي چې؛ ژباړه: ((دغه خلک داسې دي لکه [انعام] یانې چارپایانو غونډې ، بلکې تر هغوی هم بدتر دي. ۱۷۹ آیة /سورة الاعراف)) که څه هم چې یاد صورت الحال د کفارو په هکله راغلی، نو کفر مطلق د حق پټولو ته وایي او الله پاک دا هم فرمایلي چې: یانې تاسو حق ته د باطل پوښ مه ور اغوندئ، چې ګواکې بیا یې تر منځ تشخیص او تفکیک سخت شي او تاسو حق پټوونکي وګڼل شئ.

نو خبره مې کوله: قسم پر الله چې د ۱۴۰۰ کال د وږي له نهمې نېټې را پدېخوا زموږ په ګران افغانستان کې ډېر څه له منفي څخه مثبت ته واوښتل؛ ټولې وزارتخانې، لوی ریاستونه او لویې ادارې په ډېر شوق او علاقې سره د هېواد د پرمختګ لپاره هڅې کوي.

زیاتره مجاهد کارکوونکي چندان رسمیاتو ته نه ګوري؛ ګواکې په غیر رسمي وختونو کې هم کار کوي.

هو! موږ په ریښتیا سره مثبتې خوا ته روان یو ان شاءالله او پر دې نکته اوس هر څوک پوهېږي، مګر تعصب ځینې خلک ابوجهل غونډې ګرځولی دی ! وایي چې دغه ستر متعصب کافر به ویل؛ وایي: زه ښه پوهېږم چې قرآن کریم د بنده خبرې نه بلکې د الله خبرې دي او اې! وایي دا خبره به یې هم کوله چې؛ محمد (صل الله علیه و آله و سلم) دروغ نه وایي، نو یقین لرم چې دا سړی الله را لېږلی، مګر زه یې نه منم! نو ممکن دغه سرکشه انسان ته له همدې امله سردار د عالم (ص) پلار د جهل لقب ورکړی وي، کنه نو اصل نوم خو یې (عمر) او کنیه یې اب الحکم و؛ مګر زموږ خواږه پیشوا به ابوجهل ورته ویل.

یانې دی په هر څه پوه و، خو بیا به یې هم د خدای برحقه نبي نه منلو.

ما له خپل مرحوم پلار او زما مشفق استاذ محترم مولوي صاحب څخه اورېدلي چې ویل به یې: رسول الله مبارک الله پاک ته سوال کړی و؛ چې یو له عمرینو څخه مسلمان کړي! مطلب یې حضرت عمر ابن خطاب (رض) او عمر ابن هشام (ابوجهل) وو؛ ځکه چې یو یې ښه جسور، باتور او منطقي څوک و او دا بل بیا سردار د قوم و؛ نو د ده مبارک نظر دا و؛ چې که هر یو یې مسلمان شي نو اسلام ورسره قوي کېږي، چې بیا همداسې وهم وشول. نو مطلب دا چې؛ تر قیامته هم د عمر ابن خطاب اولاده شته او هم د عمر ابن هشام.

له خپل ولایته نه وزم او همدلته ستاسو قضاوت ته ځینې واقعات د نمونې په توګه ړدم!

ګورئ! ستاسو به د کرزي هغه خبره ښه یاده وي چې ویل به یې: (د وردګو خلک په پټاټو ماړه نه دي خو له سالارو یې پل صراط جوړ کړی) که موږ د دغې خبرې تحقیق وکړو او په دقت سره ورته وګورو، نو د دنیا رازونه په کې نغښتي او بلکل پر ځای خبره یې کړې ده، کور یې دې هم ودان وي. په ریښتیا چې زموږ وردګ ډېر غریب خلک دي او همدومره غریب چې ځینې یې په پټاټو (کچالیو) لا سم نه دي ماړه او جالبه دا چې؛ زموږ زیاتره خلک کچالو خوري؛ نو چې دا سړی له دغه رازه بیا چا خبر کړ؟ په هر حال... زموږ زیاتره خلک داسې شته، چې هغه کچالو د کلیو له دکانونو اخلي او بیا د شکنې خوند پرې سموي، مګر پر همدغو نیمو وږیو ګېډو یې په ریښتیا هم له سالارو تشبیهاً پل صراط جوړ کړی و.

تاسو چې کله سالارو ته و رسېدئ، نو هلته د لارو دواړو خواوو ته کورونه او باغونه لا دا ناړې وهي چې یو وخت کې له دغې ساحې تېرېدل داسې وو لکه پر تاریک او باریک پله چې سړی روان وي.

دلته د سړک له غاړې لوېدیځ لور ته یو کلی دی، چې ملیخېل ورته وایي– دا کلی ظالمانو یو مخ و نړولو او بیا یې نو پر دا منځ پوسته هم ورته واچوله، چې لا هم همغسې ګډ وډ پروت دی او تر دې مهاله یوازې یو کور بېرته په کې جوړ شوی، چې ممکن د هغه کور خاوند به نسبتاً نورو ته په اقتصادي توګه یو څه ښه وي؟ او بله دا چې؛ د کور حدود یې هم چندان له نورو سره نه وو ګډ شوي، ځکه خو یې محدوده مشخصه وه او پرته له دعوی جوړ شو.

مګر زه د دغه کلي پر جوړېدو بیخي نه یم خوښ او له مشرانو مې غوښتنه دا ده چې؛ یاد کلی او دغه ته ورته نور کلي لکه د سنګین بازار چې روغ دوکان او کور حتی باغ لا په کې نشته – همداسې رنګ بنګ وساتي، دېوالونه ترې تاو کړي او بیا یې د جنګي آثارو په توګه حفظ کړي، تر څو دلته د کفر وحشت او د افغانانو مېړانې راتلونکو نسلونو ته د فرهنګي میراث په توګه ولېږدول شي.

د سید آباد ولسوالۍ د مقر شاوخوا هم همداسې حال و لکه په سالارو کې.

د شیرازي بابا له زیات سره به چې هر مجرم تېرېدلو اندامونه به یې رپېدل.

د شیخ آباد د پله شاوخوا چې د ډاګبغرۍ، کوډۍ، عزیزالله خېلو، مستوخېلو، قاضي کلا او هاشم خېلو کلي پراته دي– ټول یې پل صراط غونډې وو.

لنډه دا چې د میدان له قراول څخه به چې د جنوب خوا ته مجرمین مازې را واوښتل، نو قیامت به پرې جوړ شو! دلته که ستاسو فکر وي! د لارې ختیځ لوري ته یوه هدیره هم ده! د دغې هدیرې له ساحې به چې پر اشغالګرو او مزدورانو یې ناتار جوړ شو، آن تر عزیز کلا پورې چې نور غزني ته سړی ننوزي دوام درلود.

کوم به یې چې توت ته پورته شول هغوی خو به خپله مخه و نیوله، مګر هغه پاتې به یې تر هغو مړیو لا بدتر وو. اشغالګر د افغانستان په یوه ولایت کې هم آرام پاتې نه شول او هر ویښ افغان په خپل کلي او کوڅه کې ... ۷مخ

# غزل

**حضرت بیدل (رح)**

زندگی محروم تکرارست و بس
چون شرر این جلوه یک بارست و بس
از عدم جویید صبح ای عاقلان
عالمی اینجا شب تارست و بس
از ضعیفی بر رخ تصویر ما
رنگ اگر گل می‌کند بارست و بس
غفلت ما پردهٔ بیگانگی‌ست
محرمان را غیر هم بارست و بس
کیست تا فهمد زبان عجز ما
ناله اینجا نبض بیمارست و بس
نیست آفاق از دل سنگین تهی
هرکجا رفتیم کهسارست و بس
از شکست شیشهٔ دلها مپرس
ششجهت یک نیشتر زارست و بس
در تحیر لذت دیدار کو
دیدهٔ آیینه بیدارست و بس
اختلاط خلق نبود بی‌گزند
بزم صحبت حلقهٔمارست و بس
چون حباب از شیخی زاهد مپرس
این سر بی‌مغز دستارست و بس
ای سرت چون شعله پر باد غرور
اینکه گردن می‌کشی، دارست و بس
بیدل از زندانیان الفتیم

# د نوي ژوند لپاره چمتووالی

**یونس روهي**



تـردې ځايـه چـې ځومـره بيـان وشـو دا تـول د ديـن هغـه ضـرورت او ارزښـت ؤ چـې يـو انسـان يـې پـه دې دنيـا خپـل فـردي او اجتماعـي ژونـد کـې ورتـه لـري- اوس بـه پـه دې هکلـه څـو خبـرې وکـړو چـې انسـان خـو بالآخـره پـه مـرګ محکـوم دی نـو آيـا لـه مرګـه وروسـته څـه پيښـيږي- آيـا هغـه بـه همدغسـې لـه خـاورو سـره دوره دوره ورک لـه منځـه ولاړ شـي او کـه دوهـم ځلـي بـه راژونـدی شـي، د خپلـو کـړو وړو بدلـه بـه مومـي او بيـا بـه د تـل لپـاره خپـل ابـدي کـور کـې دېـره وي- د اسـلام مبـارک ديـن انسـان يـو ابـدي مخلـوق ګڼـي او لـه مرګـه وروسـته هغـه تـه جـزا او سـزا ثابتـوي- قـرآن مجيـد پـه دې هکلـه داسـې وايـي. ژبـاړه: « آيـا انسـان اټـکل کـوي چـې همداسـې چټـي عبـث بـه پرېښـودل شـي؟» بلکـې هېڅکلـه داسـې نـه شـي کېـدای، هغـه بـه ضـرور خپلـه بدلـه مومـي- اسـلام وايـي اللـه تعالـی سـره لـه دومـره علـم او حکمتـه- يقينـاً لـه عبـث کارونـو پـاک دی، هېڅکلـه داسـې نـه شـي کېـدای چـې هغـه دومـره لـوی نظـام پرتـه لـه کومـې معقولـې نتيجـې پـای تـه ورسـوي او هيـڅ نتيجـه تـرې وانخلـي- خامخـا بـه نېکانـو تـه ښـې بدلـې او بدانـو ظالمانـو تـه د خپـل عمـل مناسـبه سـزا ورکـوي- د دنيـا ژونـد ډېـر لنـډ او مـرګ هـم يـو ناڅاپـه راتلونکـی واقعيـت دی- دلتـه صـرف يـو ازميښـت او امتحـان اخيسـتل کېـږي څـو معلومـه شـي هغـه کـوم خلـک دي چـې د خپـل ښښـتن او خالـق لـه مرضـۍ سـره سـم چلېدلـي او ژونديـې کـړی او بـل خـوا تـه نارامـه ظالمـان او مفسـدان څـوک دي چـې خپـل دنيايـي ژونـد کـې يـې هـر ډول فسـادونه او د اللـه تعالـی لـه فطـري نظامـه بشـپړ بغـاوت کـړی- دا او هغـه خلـک بـه ضـرور محاکمـې تـه راښـکل کېـږي، حسـاب کتـاب ورسـره کېـږي او خپلـه مناسـبه وړ بدلـه بـه مومـي- لکـه چـې اللـه تعالـی ويلـي: ژبـاړه:« يعنـې چاچـې يـوه ذره غونـډې نيکـي وکـړه هـم وينـي بـه يـې او کـه يـوه ذره غونـډې بـدي يـې وکـړه وينـي بـه يـې.»

